مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی
د ستراتېژيکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۲۸۷** (از ۱۳ الی ۲۰ دلو ۱۳۹۷ هـ ش)

**این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی، امنیتی، اقتصادی و اجتماعی هفته‌واری است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار و پالیسی‌ساز از آن استفاده نمایند.**

---

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

مقدمه ........ ۲

**د افغانستان د سولې په پروسه کې شته ابهامونه**

د امریکا ـ طالبانو خبرې اترې ........ ۴

په خبرو کې مبهم ټکي ........ ۵

پایله ........ ٦

**نگاهی به وضعیت کودکان در افغانستان**

جنگ و کودکان افغان ........ ۹

محرومیت از آموزش ........ ۱۰

خشونت علیه کودکان افغان ........ ۱۱

## مقدمه

د امریکا له لوري د افغان سولې په اړه د ځانګړي استازي په توګه د زلمي خلیلزاد له ټاکل کېدو وروسته په افغانستان کې د رواني جګړې د پای ته رسولو په موخه د امریکا او طالبانو ترمنځ د سولې خبرې چټکې شوې. که څه هم د خبرو د همدې چټکتیا په اندازه د رواني جګړې د پای ته رسېدو لپاره د خلکو هیلې هم زیاتې شوې؛ خو د څلورو میاشتو په تېرېدو سره لا هم کوم رسمي توافق نه دی شوی او په روانو خبرو اترو کې ځینې ابهامات شته دي.

له افغانستانه د امریکایي سرتېرو وتل د سولې لپاره د طالبانو اساسي شرط دی او دغې ډلې تېره اونۍ د افغانستان په اړه د مسکو په ناسته کې یو ځل بیا وویل، چې د امریکایي ځواکونو وتل د سولې لپاره د دوی اساسي شرط دی؛ خو د امریکایي چارواکو له څرګندونو داسې ښکاري چې امریکا له افغانستانه د خپلو سرتېرو د ایستلو په اړه لاهم وروستۍ پرېکړه نه ده کړې. دغه‌راز په افغانستان کې د راتلونکي نظام جوړښت، د اوسني نظام برخلیک او د سولې بهیر د وروستیو پرمختګونو څرنګوالی هغه موارد دي، چې په روانو خبرو کې مبهم ښکاري.

د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز د اوونۍ تحلیل په لومړۍ برخه کې د افغان سولې په اړه د امریکا او طالبانو ترمنځ د شوو بحثونو او په دغو بحثونو کې د شته ابهامونو په اړه بحث شوی دی.

د اوونۍ تحلیل دویمه برخه په افغانستان کې د ماشومانو ناوړه وضعیت ته ځانګړې شوې ده. د راپورونو له مخې افغانستان د هغو هېوادو په ډله کې دی، چې میلیونونه ماشومان یې له خپلو بشري حقونو څخه بې‌برخې دي او په ډېرو سختو شرایطو کې ژوند کوي. جګړه، فقر، طبیعي پېښې او نور ګڼ شمېر لاملونه شته دي، چې د افغان ماشومانو ژوند یې تر خپل سیوري لاندې راوستلی دی.

# د افغانستان د سولې په پروسه کې شته ابهامونه



د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ تېره اوونۍ (۲۰۱۹م کال د فبرورۍ ٦مه) د خپل هېواد کانګرېس ته په کلنۍ وینا کې وویل: «ما په افغانستان کې د یوې سیاسي روغې جوړې لپاره خبرې اترې چټکې کړې دي. د امریکا حکومت په افغانستان کې د طالبانو په ګډون له مختلفو افغان ډلو سره رغنده خبرې لري او که دغو خبرو پرمختګ وکړ، بیا په افغانستان کې ځواکونه کمولی شو او تمرکز به له ترهګرۍ سره پر مبارزه وي.»

د امریکا ولسمشر له دې وړاندې له سي بي اس تلویزیون سره هم په یوه مرکه کې ویلي وو، چې له افغانستانه به خپل عسکر وباسي او په دغه هېواد کې به امریکا یوازې پر استخباراتي چارو تمرکز وکړي؛ خو د نوموړي د دې پرېکړې پر وړاندې د امریکا د سنا مجلس مخالفت کوي او هڅه یې دا ده چې ټرمپ له افغانستانه امریکایي عسکر ونه باسي. افغان ولسمشر هم د ټرمپ له دغې پرېکړې نا خوښ ښکاري او هڅه کوي، چې ټرمپ له خپلې پرېکړې واوړي. ځکه په قطر کې د طالب او امریکایي استازو له وروستیو خبرو اترو وروسته یې ټرمپ ته یو لیک او له ټرمپ څخه یې غوښتنه کړې، چې له افغانستانه خپل ټول سرتېري ونه باسي.

د افغان سولې په اړه که څه هم په اوس‌مهال کې تر بل هر وخت هیلې زیاتې شوې دي؛ خو لا هم له افغانستانه د امریکایي سرتېرو د وتلو، د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د خبرو او راتلونکي نظام د څرنګوالي په اړه ځینې ابهامونه شته، چې دلته مو پرې بحث کړی دی.

## د امریکا ـ طالبانو خبرې اترې

د امریکا او طالبانو ترمنځ له تېرو څلورو میاشتو راهیسې د افغان سولې په تړاو څو ځله مخامخ خبرې وشوې او د خبرو دا پروسه په خورا چټکۍ مخ ته روانه ده. که څه هم په ابوظبۍ کې د دواړو لورو ترمنځ له درېیمې ناستې را وروسته د اجنډا پر سر د اختلاف له امله د لنډ مهال لپاره خبرې وځنډېدې؛ خو دا خبرې د دواړو لورو ترمنځ بېرته پیل شوې او په څلورمه ناسته کې په ډېرو موضوعاتو بحثونه وشول.

د څلورمې ناسته په اړه تمه دا وه، چې دواړه لوري به د بحثونو د پرمختګ په اړه ګډه اعلامیه خپره کړي. ځکه رسنیو په دغو خبرو کې د زیات پرمختګ او د مختلفو موضوعاتو په اړه (له افغانستانه د امریکايي ځواکونو د وتلو مهالوېش، د بندیانو تبادله، اوربند، لنډمهاله حکومت، د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د خبرو زمینه برابرول او د امریکايي ځواکونو له وتلو وروسته نورو ته له افغانستان څخه خطر نه پېښېدل) د یوې عمومي هوکړې په توګه خپاره کړل.

د قطر له ناستې وروسته زلمي خلیلزاد له دغو خبرو خوښي وښوده او ویې ویل، چې «له طالبانو سره په شپږ ورځنیو خبرو کې رغنده او حیاتي بحثونه وشول او په دغو بحثونو کې د پام وړ پرمختګونه هم شوي دي؛ خو تر اوسه کومه وروستۍ هوکړه نه ده شوې.» طالبانو هم د یوې اعلامیې په خپرولو سره وویل، چې «د مذاکراتو په دې پړاو کې له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو پر وتلو او نورو مهمو مسائلو بحث او پرمختګ وشو.»

له دې ټولو سره سره لا هم د سولې بهیر له یو ډول ابهام سره مخ دی او ځانګړی لوری یې معلوم نه دی. ځکه له یوې خوا د سولې خبرې تر ډېره د بندو دروازو تر شا دي او جزئیات یې څرګند نه دي، له بلې خوا له روانې پروسې سره د افغان حکومت مخالفت او له امریکا سره یې د اړیکو راتلونکی، هغه څه دي چې په اړه یې اندېښنې زیاتې شوې دي.

## په خبرو کې مبهم ټکي

د افغانستان په څېر یوه جګړه ځپلي هېواد کې د سولې هر ګام خلکو ته خورا هیله بښونکی ښکاري. د امریکا او طالبانو ترمنځ د سولې روانو خبرو ته هم افغانان خوښ دي او تمه یې دا ده چې همدا خبرې روانه جګړه پای ته ورسوي؛ خو په دغو خبرو کې لا هم لاندې څو موارد په یو ډول ابهام کې دي:

**لومړی:** په افغانستان کې د بهرنیو ځواکونو حضور د سولې پر وړاندې ستر خنډ بلل کېږي او په روانو خبرو کې هم تر ټولو مهمه موضوع ده، چې په اړه یې لا هم وروستۍ پرېکړه نه ده شوې. د امریکا کانګرس ته د ټرمپ وروستۍ وینا او له دې وړاندې له سي بي اس تلویزیون سره د نوموړي مرکه ښيي، چې امریکا له افغانستانه خپل سرتیري باسي؛ خو د امریکا د واکمن ولسمشر له دغې پالیسۍ سره د امریکا د سنا مخالفت او خپله د ټرمپ د خبرو دا برخه چې وايي: «که ځواکونه باسي نو پر استخباراتي چارو به تمرکز زیاتوي.» هغه ټکي دي، چې په افغانستان کې یې د بهرنیانو حضور مبهم کړی دی.

**دویم؛** د امریکا او طالبانو ترمنځ د خبرو روانې پروسې ته تر ډېره د پاکستان او امریکا د معاملې په سترګه کتل کېږي. پوښتنې دا دي چې ولې پاکستان له لسیزو وروسته د افغان سولې په اړه همکاري کوي؟ په دې برخه کې یې ګټې څه دي؟ ایا پاکستان ته څه ورکړل شوي چې همکاري وکړي؟ که ورکړل شوي دا یوازې د امریکا او پاکستان ترمنځ معامله ده او که د افغانستان په اړه هم له پاکستان سره معامله شوې ؟ دا پوښتنې ځکه پیدا کېږي چې افغان ولسمشر په خپلو خبرو کې د ګندمک د معاهدې یادونه وکړه او په ټینګار سره یې وویل، چې «هیڅ مور داسې زوی نه دی زیږولی چې پر ما د کندمګ په شان تړون لاسلیک کړي.»

**درېیم؛** د سولې په روانو کې خبرو کې افغان حکومت او طالبان د یو او بل خلاف دریځونه لري. طالبان نه غواړي له افغان حکومت سره خبرې وکړي او افغان حکومت له خپل حاکمیت پرته د سولې هیڅ راز خبرې نه مني. په روانه پروسه کې یو بل ابهام همدا دی چې ایا د افغانستان د راتلونکي په تړاو به د امریکا او طالبانو ترمنځ تفاهم کېږي او که افغان حکومت به هم په کې ورګډېږي، یعنې د سولې به روانو خبرو کې به وروستی تصمیم د امریکایانو او افغانانو ترمنځ وي او که یوازې د افغانانو ترمنځ وي؟ دا جدي مسله ده. ځکه که امریکا د افغان حکومت له دغه دریځه ملاتړ وکړي، ښایي طالبان یو ځل بیا له خبرو پر شا شي او که ملاتړ یې نه کوي، ښایي د کابل او واشنګټن ترمنځ اړیکې خرابې شي.

**څلورم؛** د سولې په روانو خبرو کې طالبان د اساسي قانون د تعدیل او په ټولیز ډول د نظام په جوړښت کې د اصلاحاتو خبرې کوي؛ خو د ابهام ټکی په‌کې دا دی چې آیا راتلونکی نظام به طالب محوره (لکه د ایران د اوسني نظام په شان چې د خپل هېواد د مذهبي مشرانو تر نفوذ لاندې دی) وي، چې نور ورسره ولاړ وي او که هر ګوډ کولای شي، له یوې ټاکلې مودې وروسته د طالبانو له هر ډول نفوذ څخه پاک حکومت ترلاسه کړي؟

## پایله

د امریکا او طالبانو ترمنځ د سولې په روانو خبرو کې له افغانستانه د بهرنیانو وتل، تر ټولو مهمه موضوع ده چې طالبان یې په اړه کلک دریځ لري؛ خو د ټرمپ له وروستۍ وینا داسې ښکاري، امریکا په دې لټه کې ده، چې په یو ډول نه یو ډول خپل حضور په افغانستان کې وساتي. ښايي په افغانستان کې له اوسنیو شته زرګونه امریکايي سرتیرو څخه یې اکثریت له افغانستان وایستل شي؛ خو لکه څنګه چې ټرمپ وویل امریکا به په افغانستان کې خپل استخباراتي کسان ساتي او هڅه یې دا ده چې پر طالبانو دا ومني او په راتلونکي کې هم د افغانستان په خاوره کې د ځان لپاره ځای ولري.

له بله اړخه د سولې په روانو خبرو کې طالبانو تل له افغان حکومت سره خبرې رد کړې دي او تېره اوونۍ هم افغان حکومت د مسکو په ناسته کې ګډون نه درلود. طالبانو د مسکو په ناسته کې د افغانستان له مطرحو سیاسي، جهادي، قومي او مذهبي څېرو خبرې وکړې چې دا ناسته د بین الافغاني تفاهم لپاره لومړنی ګام بللی شو؛ خو افغان ولسمشر د مسکو د غونډې په ورځ په یوه تلویزیوني مرکه کې وویل، چې دغه سیاسیون اجرائیوي صلاحیت نه لري او هره هوکړه چې وي افغان حکومت به یې کوي؛  دا بیا هغه ستونزه ده چې د حل لپاره یې لارې چارې لا هم وخت ته اړتیا لري.

په ټوله کې داسې ښکاري چې که طالبان له امریکا سره د سولې په خبرو کې یوې نهايي هوکړې ته ورسېږي او دواړه لوري د جګړې له دوامه لاس واخلي، د بین الافغاني تفاهم یا د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د خبرو موضوع هغه څه ګڼلی شو، چې ښايي د مسکو ناستې ته له افغانستانه تللي سیاسي او جهادي مشران یې د حل لپاره لاره هواره کړي او په یو ډول د دواړو لورو ترمنځ رامنځته شوی بن‌بست له منځه یوسي. پای

# نگاهی به وضعیت کودکان در افغانستان




هفتهٔ گذشته (۱۴دلو ۱۳۹۷هـ ش) صندوق حمایت از کودکان سازمان ملل متحد یا یونیسف گزارش تازهٔ خود را در رابطه به وضعیت کودکان در افغانستان نشر کرد. بر بنیاد این گزارش سه میلیون و هشتصد هزار (۳۸۰۰۰۰۰) کودک افغان به کمک نیاز دارند که در این میان بیش از ۵۷۰ هزار تن آنها نیازمند کمک‌های فوری اند.

در این گزارش گفته شده است که در میان کودکانی که نیازمند کمک‌های فوری اند، بیشترین آنان بی‌جاشده‌گان داخلی می‌باشند که به دلیل ادامهٔ جنگ، ناامنی، حوادث طبیعی و فقر از مناطق خویش بی‌جاشده اند. یونیسف از جامعهٔ جهانی خواسته است که برای کمک به کودکان آسیب‌پذیر افغان، ۵۰ میلیون دالر کمک کنند.

جنگ جاری، وضعیت ناگوار سیاسی و اقتصادی در افغانستان وضعیت کودکان این کشور را تأسف‌بار ساخته است. قربانی شدن کودکان در جنگ، محرومیت از آموزش و انواع خشونت در برابر آنها از مواردی اند که زندگی کودکان افغان را تلخ ساخته است. در این تحلیل به همین وضعیت ناگوار کودکان افغان پرداخته شده است.

## جنگ و کودکان افغان

جنگ جاری در افغانستان یکی از چالش‌های بزرگی در برابر زندگی کودکان افغان است. سال‌هاست که طرفین درگیر جنگ در افغانستان با بی توجهی به زندگی کودکان جنایات وحشتناکی علیه کودکان افغان مرتکب می‌شوند و این روند بدون این که عاملین آن مورد پیگرد قانونی قرار گیرند، ادامه دارد.

بر مبنای گزارش سالانۀ یونیسف در سال ۲۰۱۸م در سراسر جهان هزاران دختر و پسر خردسال قربانیان مستقیم جنگ و خونریزی بودند. در گزارش یونیسف نام‌های افغانستان، عراق و یمن در صدر بدترین کشورها برای کودکان ذکر شده است. بر اساس این گزارش، تنها در نه ماه نخست سال ۲۰۱۸م، ۵۰۰۰ کودک و نوجوان در افغانستان کشته و مجروح شده‌اند. همچنان سازمان دیده‌بان حقوق بشر در گزارش سالانۀ خود گفته است که در سال ۲۰۱۸م بیش از ۱۰ هزار فرد ملکی در افغانستان کشته و زخمی شده‌اند که در این میان یک سوم آن را کودکان تشکیل می‌دهد.

حضور کودکان در صفوف طرفین درگیر جنگ در افغانستان، استفادۀ آنان برای اهداف جنگی و حتی استفادۀ جنسی از کودکان یکی از نگرانی‌های دیگر در برابر زندگی کودکان افغان است. با آنکه در این رابطه نهادهای حقوق بشری بارها ابراز نگرانی کرده‌اند و در گزارش‌های خویش گفته اند که در صفوف جنگ از جوانان کم سن در افغانستان استفاده صورت می‌گیرد، هم در صفوف مخالفین مسلح دولت و هم در پولیس محلی جوانان کم‌عمر استخدام می‌شوند؛ اما تاکنون هم در برخی مناطق کشور از کودکان افغان برای حملات انفجاری، جاسازی ماین‌ها و خطوط نخست جنگ کار گرفته می‌شوند.

در کل با آن‌که بعد از سال ۲۰۰۱م و روی‌کار آمدن نظام جدید، نهادهای مختلف ملی و بین‌المللی در عرصۀ حمایت از حقوق بشر و اطفال در افغانستان فعالیت دارند و در این عرصه میلیون‌ها دالر به مصرف رسیده است؛ اما هنوز هم کودکان افغان به نحوی از انحا قربانی جنگ و نا امنی‌ها می‌شوند.

## محرومیت از آموزش

آموزش و تعلیم‌وتربیه رکن اساسی انکشاف‌پایدار یک جامعه است و نیازمند توجه بیشتر دولت‌ها می‌باشد. دولت افغانستان بر اساس قواعد و مقررات بین‌المللی و قوانین ملی وظیفه دارد تا زمینه دسترسی برابر شهروندان به تعلیم و تربیت را فراهم سازد.

بهبود وضعیت معارف در طول ۱۸ سال گذشته، یکی از شعارهای مهم و برجستهٔ دولت افغانستان و جامعهٔ جهانی بود؛ اما با گذشت این مدت طولانی و مصرف میلیاردها دالر، با آن‌که معارف پیشرفت‌های چشم‌گیری نیز داشته، ولی هنوز هم مشکلات و چالش‌های زیادی این عرصهٔ حیاتی را تهدید می‌کند و میلیون‌ها کودک افغان از رفتن به مکاتب محروم اند.

بر بنیاد معلومات وزارت معارف افغانستان، سه میلیون و هفتصد هزار (۳۷۰۰۰۰۰) کودک افغان از خدمات آموزشی محروم اند. تحقیق مشترک یونیسف و وزارت معارف افغانستان که در ربع نخست سال ۱۳۹۷هـ ش نشر شده، نشان می‌دهد که در سراسر افغانستان ۴۴ درصد (۳.۷ میلیون) کودک واجد شرایط، از رفتن به مکاتب محروم اند. ناامنی‌ها، نبود سهولت‌های لازم در مکاتب، بی‌جاشدن از مسکن و ازدواج‌های زیر سن از عواملی اند که در گزارش مذکور در پیوند به این وضعیت بیان شده است.

در کل محرومیت از آموزش یکی از نگرانی‌های مهم کودکان افغانستان است. در این کشور تعداد بزرگی از کودکان به دلیل جنگ و نا امنی، بی‌جا شدن خانوادگی، بی‌سر پرستی و مشکلات فقر و بیچارگی، از آموزش محروم اند. وضعیت موجود کودکان افغان و محرومیت آنان از حق تعلیم و تربیت در افغانستان در حالی با این گراف بالا قرار دارد که سال ۱۳۹۷ هـ ش از سوی رئیس جمهور غنی به نام سال معارف مسمی شده بود.

## خشونت علیه کودکان افغان

کودکان در افغانستان یکی از آسیب پذیر‌ترین طبقه در این کشور است. خشونت علیه کودکان در این کشور یکی از مشکلات جدی و فراگیر می‌باشد. کودکان نه تنها د معرض خشونت‌های مستقیم فزیکی قرار دارند، بلکی از انواع خشونت‌های روانی نیز رنج می‌برند.

خانواده که من‌حیث اولین مرکز آموزشی آمیخته با عواطف پدری و مادری می‌باشد، اساسات روند الگوگیری و ضرورت‌های ابتدایی آموزش و پرورش در وجود کودکان را جا گذاری می‌کند. پس می‌شود گاهی یک اشتباه کوچک والدین ذهن نشین کودک شده و او را از مسیر طبیعت لطیف کودکانه‌اش بی‌راه بسازد که گمان نمی‌رود زیاد کسانی بوده باشند که به نوع از خشونت‌های خانوادگی کودکان اعتراف نکنند.

ضرب وشتم کودکان، بی‌توجهی به روند آموزش کودکان از سوی والدین، دروغ گویی به کودکان، تماشای سریال‌های رسانه‌های آزاد در حضور کودکان، ویژه سازی کودکان در حضور یکدیگر، گماشته شدن کودکان به انواع شغل‌های شاقه، جواب ندادن به سوالات آن‌ها، عدم توازن در مکافات دهی و مجازات دهی به آن‌ها، نامزدی آن‌ها قبل از تولد و یا در هنگام طفلی و ده‌ها مورد دیگر از انواع خشونت‌ها را یاد کرده می‌توانیم که در جامعۀ افغانستان وجود دارند.

انواع ذکر شده از خشونت در برابر اطفال، همه مواردی اند که بالای رشد شخصیتی و جسمی کودکان تاثیر مستقیم دارند و تغییر جهت به روند سازمان‌دهی کودکان می‌شود.

انواع دیگر خشونت در برابر کودکان خشونت‌های ملی و امنیتی اند. این نوع خشونت‌ها البته چندین مرتبه خشن‌تر از نوع قبلی به سطح ملی در افغانستان عمل نموده است که شامل تمام واقعات و گرفته از جنگ و ناامنی، بمباردمان‌های هوایی، حوادث طبیعی و بلاهای شهر نشینی اعم از آلودگی و حوادث ترافیکی و... می‌شود که به مرگ، محروم شدن از آموزش و پرورش درست، یتیم شدن، انجام کارهای شاقه، اختطاف، سوء استفادۀ جنسی، مهاجرت‌های غیر قانونی، اعتیاد به مواد مخدر و شروع به فعالیت‌های قاچاقی، افسردگی و غیره می انجامد.

در کل باید گفت با آنکه هدف از تصویب کنوانسیون اطفال در سال ۱۹۸۹م این بود که در سطح بین المللی یک ابزار الزام‌آور برای دولت‌ها در قسمت رعایت حقوق بشری اطفال به وجود آید. دولت افغانستان این کنوانسیون را در سال ۱۹۹۴م امضا کرد و در قسمت رعایت آن مکلفیت دارد. اما بر بنیاد گزارش‌های نهادهای حمایت‌کنندۀ کودکان حکومت و ادارات حمایت از کودکان طوری که لازم است در بخش رعایت حقوق کودکان فعالیت کنند، نکردند و پول‌های که تحت نام حمایت از کودکان گرفته می‌شود در بسیاری موارد به دلیل موجودیت فساد گسترده در افغانستان حیف و میل می‌شود.

پایان

**ارتباط با ما:**

**ایمیل:** info@csrskabul.com - csrskabul@gmail.com

**وب سایت:** www.csrskabul.com -- www.csrskabul.net

**شمارۀ تماس دفتر:** (+93) 202564049 - (+93) 784089590

**محقق و مسؤول تحلیل هفته:** ضیاءالاسلام شیرانی (+93) 764747548 zi.shirani@gmail.com

**محقق و مسؤول نشر تحلیل هفته:** احمدشاه راشد (+93) 784249421 ahmadshahr786@gmail.com